**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# اې د مسلمانانو لښکرو: فلسطیني اتلانو یهودي دولت په لړزه راوستی، له دوی ملاتړ وکړئ او دا دولت له منځه یوسئ

**(ژباړه)**

د شنبې پر سهار د غزې ترانګې اتلو مجاهدینو د یهودانو تر کنټرول لاندې سیمه کې د دښمن لیکې ماتې او د دوی پر استوګنځیو یې بریدونه وکړل. مجاهدینو په خپلو دغو شاهکارانه بریدونو د ډارن دښمن لپاره د شنبې سهار پر یوه بده خاطره بدل کړ او د فلسطین د خلکو تر څنګ یې د ټولو مسلمانانو لپاره د دغو صحنو په لیدلو سره دغه سهار ځانګړی کړ او د دوی په روح کې یې ویاړ را ژوندی کړ. موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې دا به په پیل کې د مسلمانانو لپاره یوه ننګونه وي خو ورپسې به یې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته ستره فتح او بریا ور په برخه کړي.

**اې مسلمانانو:** هغه څه چې نن ورځ پر دې مبارکه خاوره پیښیږي د هغې سترې ورځې له وړاندې اخیستل شوی تصویر دی چې یهودي دولت به ورسره مخ شي او ښایي دا ډېر ژر ستاسو د مخلصو زامنو په لاسونو وشي. نننۍ حالت د یوه کمزوري ډارن دښمن اصلي واقعیت او د هغه سترې او ماتېدونکې ځواک خورا روښانه انځوروي. تاسو ولیدل چې یوازې په یو ساعت کې اتل مجاهدین د دوی تر سړکونو او نظامي اډو پورې ورسېدل، ټانکونه یې وسوځول او د دوی سرتیري او د سرتیرو د بدن غړي یې د پسونو په څیر له ټانکونو څخه ښکته وغورځول. تاسو ولیدل چې د دوی هغه احتیاط، دفاع او غرور چې تل یې د جنګ او فساد پر وخت ویاړ پرې کاوه؛ اصلاً نه و.

دا د امت د هغو ځوانانو یا د امت لپاره د یوې الګو ډلې او د هغو اتلانو د سرښندنو انځور دی، چې جهاد کوي او دښمن ته ماتې ورکوي. نو هغه صحنه به څنګه وي چې له دوی سره د امت پوځونه او نور اتلان یو ځای شي او ملاتړ یې وکړي؟ هغه صحنه به څنګه وي چې د اردن او مصر پوځیان اوسنۍ کاذبې او باطلې پولې داسې ماتې کړي، لکه څنګه چې نن په غزه کې ماتې شوې او د دوی ټانکونه اقصی ته د تکبیر له نارو سره په شور او زور سره راننوځي!؟

**اې مسلمانو سرتېرو او افسرانو او اې زموږ د امت ځواکمنو خلکو:**

ځه چې نن وشول، د یهودي دولت بدن او روح دواړه یې ولړزول. یهودي دولت هغه کمزوری او بې اساسه دولت دی چې یوازې د امت یوه پیاوړي وار ته اړتیا لري چې د تل لپاره یې له شره خلاص شي؛ قدس او نور مقدسات یې له ناولو قدمونو او سپکاویو خوندي شي او خلک یې په دغه مبارکه خاوره کې له فساد او جنایتونو څخه د ارامۍ ساه واخلي. نو هغه کسان شئ چې دغه ستره بریا مو په پوره ویاړ سره په لاسونو تحقق پیدا کړي او امت ته د حضرت عمر فاروق د ویاړمنو فتوحاتو او د صلاح الدین د دورې ویاړ او اعزاز ورکړئ. ستاسو وروڼو او د دې مبارکې خاورې اتلانو د دغه دښمن د سوزولو اور بل کړی، له دوی سره د خپل دښمن په بشپړ سوزولو کې مرسته وکړئ، ځکه چې دوی ستاسو د بریا په لټه کې دي. د دوی ملاتړ وکړئ او خپل دین ته له ښي او چپ لوري په لښکرو سره نصرت ورکړئ، د دغه ډارن دښمن دیوالونه ړنګ او وجود یې له منځه یوسئ. مه پرېږدئ چې ستاسو ډارن واکمنان، عادي شوي اجنټان تاسو د ملاتړ او بریا له دغه ویاړ څخه بې برخې کړي. دوی له قدرت څخه راوغورځوئ، ځکه چې د دوی تاج او تختونه د یهودي دولت د ساتونکو په څیر کمزوري او مات شوي دي. د دوی سقوط اصلاً د یهودي دولت زوال او سقوط دی.

**اې د مسلمانانو لښکرو، اې زموږ د امت د زامنو په منځ کې د قدرت څښتنانو او اې زموږ د امت زامنو:**

زموږ او ستاسو دښمنان ظالمان دي او د مسلمانانو واکمنان د امت په اړه غافل، خاین او دسیسه کوونکي دي. لوی هیوادونه جنایتکاران دي او ټول د دغه شیطاني وجود د بقا لپاره هڅې کوي. دوی هڅه کوي چې د اسلامي امت هغه ټولې هڅې له منځه یوسي او هغه ټولې شعلې مړې کړي، چې د امت ترمنځ د بریا یا د جهاد روحیه ژوندۍ کوي. یهودي دولت موږ ته د جګړې بلنه راکوي او موږ پوهېږو چې د دوی جګړه به د ډارنو وي؛ ظلمونه به وکړي، ځکه ډارن د زیان رسولو او ظلم ورټیا لري. موږ د نړۍ لوی قدرتونه او د دوی غلام مسلمان واکمنان پیژنو، چې څه ډول ټول هغه حرکتونه کمزوي کوي چې د امت د بیا راژوندي کولو لپاره په پوره تدبیر او پلان سره کار کوي او په خپل مکر او حیلې د دغو حرکتونو بریا پر ماتې بدلوي او یا پر یوې تخریبي نقشې او دسیسې باندې د پانګونې له لارې له خپل مسیره کږوي. د دې پر ځای چې په تر ټولو ستونزمنو حالتونو کې دوی د فلسطینیانو ستونزې حل کړي، دغو واکمنانو تل د خپلو دسیسو له لارې د فلسطین خلک د خپل دښمن چړو ته تړلي دي. دغه موضوع یوه برخلیک ټاکونکې قضیه ده، نو د دغې مبارکې خاورې او د هغه د خلکو د ملاتړ له لارې د خپل دین ملاتړ وکړئ. د دوی له محاصره کېدو څخه ځان خبر کړئ، د فلسطین خلکو د تاسو لپاره دغه دروازه پرانیستله او تاسو باید دغې دروازې ته ننوځئ.

[**فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ**]

**ژباړه:** نو کله چې له هغه دروازې ورننوځي، نو تاسو غالب یاست، نو پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړئ، که مومنان یاست. [مائده:۲۳]

الله ته نصرت ورکړئ چې هغه تاسو ته نصرت درکړي.

[**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ**]

**ژباړه:** اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی؛ که د الله سبحانه وتعالی نصرت وکړئ، هغه سبحانه وتعالی به ستاسو نصرت وکړي او قدمونه به مو ټینګ او ثابت کړي. [محمد:۷]

دا به درک کړئ او پوه به شئ چې د الله سبحانه وتعالی نصرت تر هغه ډېر نژدې دی چې تاسو يې فکر کوئ!

[**أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيب**]

**ژباړه:** پوه شئ چې د الله (سبحان و تعالی) نصرت نیږدې دی. [بقره: ۲۱۴]

## د فلسطین سپېڅلې خاوره کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۵ هـ. ق کال، د ربیع الأول ۲۲مه

۲۰۲۳م کال، شنبه، د اکتبر۷مه

ګڼه: ۳/۱۴۴۵